
بخښنل شوی مجرم

# بخښل شوی مجرم

# بخښل شوی مجرم

لیکوونکی: ویلیام میکلوی میلر

طابع: ____________ ایم ویکلی

اول چاپ: ____________ ۱۹۸۲
دویم چاپ: ____________ ۲۰۰۳

# سریزه

د دې رسالې په لیکلو کې لیکوونکی زیار ایستلی چې ټوله رساله د انجیل د مقدس کتاب پر بناء ولیکي، داسې چې ځنې آیاتونه ئې له هغه څخه ټکی په ټکی رانقل کړی دي. د دې لپاره چه لوستونکی دغه آیاتونه په آسانۍ سره په مقدس کتاب کې پیدا کړي، نو د هر اقتباس شوی آیت په آخر کې د قوس په مینځ کې حواله لیکل شوی ده. د مثال په توګه لمړنې ذکر شوی حواله په څلورمه صفحه کې لیدل کیږي چې داسې لیکل شوی دی (متی ۲۲: ۳۲-۴۰). د دې معنیٰ دا ده چې اقتباس شوی کرښې د مقدس کتاب د متی په ۲۲ فصل کې د ۳۲ آیت نه تر ۴۰ آیاته پورې لیدل کیږي.

کوم ځای کې چې لیکوونکی د مقدس کتاب څخه آیتونه د شمیر سره کټ، مټ نه وی نقل کړی او یوائې د مقدس کتاب څخه یوه بیانیه یا جمله ذکر کړې وی، نو د جملې په پای کې اعدار لیکل شوی

دی. د مثال په توګه د پنځمې صفحی په نهمه کرښه کې (د پورته خوا څخه) د قاضی د لغت څخه وروسته د (۱۰) عدد لیکل شوی دی. د دې معنی دا ده چې د دغې رسالی په آخر کې یعنی په شپاړسمه صفحه کې تاسې د مقدس کتاب د هغې برخی نوم، فصل او د آیتونو شمیر پیدا کولی شی، کوم چې د هغې په باره په دې مضمون کې وینا شوی وي.

که لوستونکی د مقدس کتاب یوه کاپی پیدا کړی او د دې رسالې د لوستلو سره سم د هغه حوالې په مقدس کتاب کې وګوری، د رسالی د مضمون په بشپړه پوهیدلو کې په ډیره موثره وي. د مقدس کتاب ټول هغه آیاتونه چې په دې رساله کې نقل شوی دي یوې نوې ترجمه شوی مقدس کتاب څخه اخیستل شوی دی.

# بخښل شوی مجرم

د دنیا په ډیرو ملکونو کې ډیر خلک د عیسویانو په نامه پیژندل کیږي او همدارنګه ځنې نور خلک هم شته چې د حقیقت په لټه کې دي او غواړي چې په دې پوه شي چې عیسوی اوسیدل څه معنیٰ لری. څرنګه چې د عیسوی لغت ډیرې معنیٰ ګانی لري، ښه به دا وی چې د عیسویانو او هم د هغوی لپاره چې د عیسوی کیدو په فکر کې وی په لنډ ډول سره واضح کړی چې عیسوی څوک دی؟

غیاث الغات یو عیسوی دا رنګ تعریفوي:

هر هغه څوک چې د حضرت عیسیٰ مسیح په مذهب عقیده ولری، پرې اقرار وکړی او یا په هغه پورې مربوط وي عیسوی نومیږي.

دا تعریف صحیح دی مګر ډیر لنډ او نامکمل دی که څوک غواړی چې "عیسوی څوک دی؟" په معنیٰ

په پوره او مکمل ډول پوه شي باید هغه مقدس کتاب ته چې د مقدسو کسانو په واسطه او د مقدس روح په کمک او رهنمائې سره لیکل شوی او په هغه کې د عیسوی دین اصول پراته دي رجوع وکړي، په دې کتاب کې د عیسوی دین صحیح او بشپړه توضیحات شته دي. که څوک غواړی چې د رښتنې عیسویت په هکله معلومات حاصل کړی، باید نوموړی آسمانې کتاب په ډیر غور سره ولولی. په دې رساله کې د مقدس کتاب د مختلفو برخو څخه د حوالی په توګه استفاده شوی ده. د مقدس کتاب ښوونو سره سم د عیسوی کلمه په لاندې ډول تعریفولی شو.

۱- عیسوی هغه مجرم دی چې د خدای پواسطه بخښل شوی وي.

هر پر مختللی هیواد څنې خاص قوانین لري چې د ناوړو او بد کارو خلکو مخنیوی وکړي او پرې نږدي چې نورو خلکو ته ضرر او تکلیف ورسوی. هر هغه څوک چې دا قوانین ماتوی په تړلنه کې د

مجرم په توګه پيژندل کيږی. څښتن تعالیٰ هم د خپلو مخلوقاتو لپاره خاص قوانين نازل کړی، تر څو هغوی د بدو کارو څنې وژغوري او غوره اعمالو ته ئې وګماري. کله چې د حضرت عيسیٰ څنې پوښتنه وشوه «استاذه! په شريعت کې د ټولو نه لوی حکم کوم يو دی؟" هغه ورته جواب ورکړو چې: "د مالک خدای سره د زړه په راستۍ، په پوره روح سره او په پوره عقل سره مينه لرۍ." دا د ټولو نه لوی او وړومبی حکم دی. او دويم حکم هم په دې شان دی چې :" د خپل ګاونډی سره د ځان په شان مينه کوۍ." د شريعت او د نبيانو د تعليم ټول بنياد په دې دواړو حکمونو دی." (متی ۲۲: ۳۶-۴۰).

په رښتيا چې دا ډير لوی او غوره امرونه دي ځکه چې د خلکو لپاره د خدای ټول قوانين په دې امرونو کې موجود دی. مګر آيا څوک قادر دی چې دا امرونه کاملاً پر ځای کړي؟ هيڅ يو لوستونکی به پيدا نشی چې په رښتيا وويلای شی چې د خپل عمر په ټوله موده کې د خدای سره ئې د زړه له

کومی مینه کړی ده، ځکه مونږ او تاسی ښه پوهیږو
چې ډیر ځله د خپل ځان، شته منی او یا ساعت
تیری سره نسبت خدای ته ډیره مینه لرو او هم
پوهیږو چې ډیر ځله نه یو بریالی شوي چې خپلو
ګاونډیانو سره د خپلو ځان په شان مینه وکړو. د
ګاونډیانو څخه زمونږ مقصد هغه کسان دی کوم
چې ورسره مخامخ کیږو، کار ورسره کوو او یا
نژدې ورسره ژوند کوو، او هم باید ووایو چې هر
څوک چې د لوی څښتن دا لوی قوانین مات کړی
مجرم دی او د خدای په واسطه چې حقیقی قاضی
دی په ابدی مرګ محکوم کیږي.
اما حقیقی قاضي عادل او مهربان دی او نه غواړی
چې قانون ماتوونکی تباه کړي، بلکه غواړی چې
هغه وبخښی او د ابدی مرګ څخه ئې خلاص کړي.
په همدې وجه وه چې خپل حقیقی ګران زوی
حضرت مسیح ئې راولیږه، تر څو د هغه کسانو سره
چې د تباهی کندی ته روان دی مرسته وشي. چې دا
خپله د ګناه ګارانو سره د لوی خدای د ډیری

حیرانوونکی مینې ښکارندوی دی. دلته د زوی د کلیمی څخه مطلب روحانی زوی دی نه جسمی، دا څرګنده ده چې لوی خدای نه ښځه کړی او نه زوی لری. حتیٰ دا ډول فکر کول بشپړه ناممکنه او د تصور څخه لری خبره ده. حضرت مسیح صرف د خدای روحانی زوی دی او بس.

حضرت عیسیٰ د ګناه ګارانو په خاطر مړ شو او د هغوی د ګناه جزا او مشقت ئې پر خپل ځان تیر کړ، له همدې کبله لوی خدای عهد کړی چې که څوک پر حضرت عیسیٰ باندې عقیده ولري او د هغه لاره تعقیب کړي بخښل کیږي. ((خُدائے د دنیا سره داسې مینه وکړله چه خپل یکی یو زوی ئې هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوی ئې ایمان راؤړی هغه هلاک نه شی خو د تل عمری ژوندون بیا مومی.)) (یوحنا ۳: ۱۶).

له همدې کبله یو عیسوی هغه قانون ماتونکی او ګناه ګار دی چې په حضرت مسیح د عقیدی لرلو له کبله بخښل شوی او د ابدی مرګ څخه خلاص

شوی دی. کله چې خلکو ته د هغې منطقی د پادشاه له خوا بخښنه وشي، د هغه خلکو خوشحالی به دومره زیاته شی چې لیکل او ویل ئې هیڅ امکان نه لری، عیسویان هم د دوی د ګناهونو د بخښلو له کبله چې د حضرت مسیح د قربانۍ په واسطه کوم چې د دوي په خاطر په صلیب باندې مړ شو، د لوی خدای څخه ډیره خوښی کوي او تل د لوی خدای د دې عفوی او احسان څخه شکر ګزاری او مننه کوي.

۲- یو عیسوی هغه څوک دی چې د نوی زړه خاوند وي

ولې خلک د خدای قوانین ماتوي، بدو ته په ښو باندې ترجیح ورکوی او یو د بل څخه نفرت لری؟ دا ځکه چې د دوي زړونه ناپاک او بد دي. کله چې انسان د خدای په واسطه منځ ته راغی د پاک زړه خاوند وو. مګر انسان د خپل خطاء او د خدای نه د

اطاعت د نه کولو په وسیله خپل زړه ګناه ګار او ناپاک کړ. د یو ګناه ګار او ناپاکه او بد زړه انسان په هر رنګ بدو کارونو لکه وعده خلافی، تکبر، د نفس غوښتنه "شهوت" بی عفتی، کرکه، قتل او په نورو بدو او ناوړه کارونو لړلی وي، که خدای دغه رنګه ګناه ګاران یواځی وبخښی او د هغوی بد او ناپاکه زړونه پاک نه کړي ممکن هغوی بیا هم په بدو کارونو لاس پورې کړي، نو ځکه د هغوی ښه، پاک او په سمه لاره وګمارل شي. همدارنګه خدای یو بل د تعجب وړ کار هم کوی، هغه دا چې بخښل شوی ګناه ګارانو ته نوی، پاک او ښه زړونه هم ورکوي.

مونږ او تاسو په اخبارونو کې لولو چې د تعجب وړ عملیاتونه "د زړه د پیوندولو عملیات" د لایقو او با تجربه ډاکترانو پواسطه په هغه خلکو باندې کوم چې زړونه ئې له کاره وتلی وي اجراء کیږی، هغوی دغه له کاره لویدلی زړونه غوځوی او په عوض کې ئې د نورو خلکو زړونه کوم چې د یوې حادثی یا

زخم پواسطه تازه مړه شوی وی پیوند وي. چې دا
کار په حقیقت کې د تعجب وړ دی. مګر خدای تر
اوسه تر دې ډیر زیات د تعجب وړ کارونه کړی دي
ځکه چې خدای د خپل مقدس روح په واسطه هغه
خلکو ته کوم چې په حضرت مسیح عقیده لري نوی
روحانی زړونه ورکړی دي، د دې نوی زړونو
خاوندان به وروسته له دې د ښو سره مینه او د بدو
څخه به نفرت وکړي او هم به په دې قادر وی چې د
خپل خدای او هم د خپلو ګاونډیانو سره لکه څنګه
چې خدای فرمائیلی، مینه او محبت وکړی. په
همدې وجه وایو عیسویان هغه کسان دي چې نوی
زړونه لري دا د دې معنیٰ نه لری چې عیسویان
هیڅکله ګناه نه کوی او بې ګناه وي. ځکه هغه
څوک چې په ټول ژوند کې بې ګناه ؤ یوازی حضرت
عیسیٰ دی، ولې مهمه دا ده چې عیسویان نه
غواړي چې ګناه وکړی، هغوی کوشش کوی چې د
خدای په مرستی سره د ګناه څخه ځان وساتی او په
هره موضوع کې د خدای پیروی وکړي. اما که

چيری بې ارادې څه ګناه وکړي، نو خدای ته اعتراف کوی او بخښنه ځنې غواړی او هم کوشش کوي چې بیا ګناه ونه کړی.
له دې کبله لیدل کیږی چې هغه خلکوو ته چې خدای نوی زړونه ورکړی وی، په حقیقت کې دوهم ځلی له موره پیدا شوی دي، دوی نور هغه پخوانی خلک نه دی، بلکه د حضرت مسیح په واسطه نوې نړۍ ته راغلی دي. دوی اوس د داسې ژوند خاوندان دي چې مرګ ئې ورانولی نشی، د دوی ژوند نه یوازی د ځمکی پر سر ده بلکه دوی د ابدی ژوند خاوندان دي. پس یو عیسوی هغه څوک دی چې د ابدي ژوند خاوند وي.

**۳- یو عیسوی د یوې حقیقی تاک د ونې (عیسیٰ) څانګه ده**

حضرت عیسیٰ یوه شپه مخکې د مصلوب کیدو نه وغوښتل چې خپل راتلونکی اړیکی د خپلو

مریدانو سره هغوی ته واضح کړي. هغه یوه لنډه اخلاقي قصه چې د یوحنا په پنځلسم فصل کې شته وکړه. په دې قصه عیسیٰ خپل ځان د تاک د ونی سره مقایسه کړ، او خپل مریدان ئې د دې تاک د ونې څانګی وبلل. په راتلونکی ورځ حضرت عیسیٰ د خپلو دښمنانو له خوا مصلوب او مړ شو، په دریمه ورځ لکه څنګه چې مخکې ئې ویلی ؤ بیرته راژوندی شو او له قبر ځنې ووت چې بیا به هیڅکله مړ نشی او تر ابده به ژوندی وي. حضرت عیسیٰ نن هم ژوندی دی او عیسویان د خپل ایمان په ذریعه چې پرې لری ور سره یو ځای ژوند کوی. هغه خپلو پیروانو ته امر وکړ چې ور سره یو ځای واوسي او هیڅکله ورځنی بیل نشي. دا ځکه چې که چیری د یوې ونی څانګې پرې شي او د ونی څخه بیلی شي، نو ډیر ژر په مړاوی شي او وبه مري، ولې که چیری د ایمانداری له مخې د حضرت مسیح سره یو ځای واوسی، نو هغوی به ژوندی وي او میوه به نیسي. ربښتنولی، صلح او خوښی به په هغو کې وي او

هغوی به خدای او خلکو ته د قدر وړ خدمتونه وکړي. دا دی د مینی او محبت (ایمان) مقدس مقام او کیفیت. پس یو رښتینی عیسوی هغه څوک دی چې حضرت مسیح په هغه کې ژوند وکړی یعنی د هغه په ژوند او زړه کې ځای ولري.

۴- یو عیسوی د خدای ماشوم دی

هر ماشوم چې دنیا ته راځی یو فزیکی پلار لری کوم چې د هغه پالنه او روزنه کوي. مګر کله چې یو څو د پاک خدای د مقدس روح په قدرت سره دوباره راژوندی کیږی، آیا هغه به د کومی کورنی پورې اړه لري؟ څرګنده ده چې دی د ښتن تعالی په هغه لوئې کورنی پورې اړه لری کوم چې دی په کې د روحانی ماشوم په توګه قبول شوی دی. او خدای د هغه د رښتنی پلار په توګه د هغه د ژوند واګی په لاس کې لري.

له دې سببه یو عیسوی څرنګه چې د خدای له لوری
په نوی مقدس روح سمبال شوی دی د خدای د
ماشوم په نامه یادیږی. په ډیرو مذهبونو کې کله
چې یو څوک غواړی د خدای رضا حاصله او ورته
خدمت وکړي، ځانونه د خدای غلامان ګڼی او دا
درسته هم ده، ځکه په رښتیا چې خدای د ټولو
شیانو خاوند دی د ټولو خلکو وظیفه ده چې د هغه
اطاعت او خدمت وکړي، مګر کله چې ګناه ګاران د
خدای لخوا وبخښل شي او د نوي زړه او نوی ژوند
خاوندان شی، خدای ورته داسې وائی: "زه تاسو ته
نور خپل غلامان نه وایم، تاسې اوس زما ګران
زامن او لورګانی یی او کله چې تاسې زما یادونه
کوی، نو ما ته د پلار خطاب وکړئ" همدارنګه
حضرت مسیح خپل مریدان ته داسې درس ورکاوه
او ویل به ئې چې، ((نو داسې دعا کوی: ای په
آسمان کې زمونږ پلاره! ستا نوم د پاک وی.)) (متی
۶ : ۹) وګوری چې څښتن تعالی مونږ ته څومره لوی
امتیاز راکړی. د یو لوی او ښه پادشاه قصه دی چې

وائی یوه ورځ پادشاه په داسې حال کې چې پر خپل شاهانه بګی (ګاډی) سپور وو د یوې کوڅې څخه تیریدو، یو غریب ړوند یتیم هلک ئې ولید چې زاړه او شکیدلی جامی ئې په غاړه وې، په ګرد او دوړو کې ناست وو او د ډوډی سوال ئې کاوه. پاچا خپله بګی ودروله، د بګی څخه راښکته شو او هلک ته ورغی، هغه ئې پخپلو لاسونو بګی ته پورته کړ، او خپل پادشاهی قصر ته ئې یوړو. هغه ته ئې حمام ورکړ، نوی او ښې جامی ئې ورواغوستلی او د ځان سره ئې په یوه میز کښیناوه او ورته ئې وویل: "ته اوس زما زوی ئې پس له دې نه به له ما سره اوسی او زه به ستا د پلار په شان یم." وګوروئ پاچا یو د تعجب وړ مینه د هغه ګدا هلک سره وښودله، مګر زمونږ ګناه ګارانو سره د خدای مینه تر دې زیاته د تعجب وړ ده ځکه سره له دې چې مونږ سر غړونکی، د خدای دښمنان، او د خدای د مقدسو قوانینو ماتونکی، خدای ته اطاعت نه کوو بیا هم پر مونږ ډیره مهربانی لري،

زمونږ د ګناهونو په بدل کې چې باید هلاک شوی وو. بخښنه ئې راکړه او هم مونږ ته ئې تغیر راکړ، تر څو ښه او سپیڅلي شو او هم ئې پخپل آسمانی کور کې مونږ ته ځای راکړ، تر څو تر ابده پورې د هغه سره واوسو.

دا چې عیسویان د خدای زامن دي د دوی د کوم خاص امتیاز او لوړوالي له کبله نه ده، بلکه د لوی خدای د زیاتی مهربانی له کبله ده.

په مقدس کتاب کې راغلی دي چې: "خوږو دوستانو! مونږ اوس هم د خدای بچی یو خو په دې نه پوهیږو چې څنګه به شو، خو مونږ په دې پوهیږو چې هر کله چې عیسیٰ رابنکاره شي نو مونږ به د هغه په شان شو ځکه چې مونږ به ئې هم په هغه شان ووینو څنګه چې هغه دی. هر څوک چې په مسیح دا امید لری، هغه ځای داسې پاک ساتی لکه چې مسیح پاک دی" (اول یوحنا ۳: ۲-۳). عیسویان د خدای زامن دي او په دې امید دي چې د هغوی خلاصون ورکونکی حضرت عیسیٰ لکه څنګه چې

وعده ئې کړې ده بیرته راځي، نو دوی کوشش کوی چې په ژوند کې سپیڅلی واوسی، تر څو خپل مقدس پلار ته د ورتلو لیاقت ولری.

**۵**- یو عیسوی د هغه جهانی کورنی یو غړی دی کوم چې د خدای کلیسا ده

امکان لری یو ماشوم په یوه انسانی کورنې کې پیدا شي او د مور او پلار یوائینې ماشوم وي او نور ورونه او خویندی ونه لري، مګر دا حالت د هغوی لپاره کوم چې د خدای زامن ګرځي نه واقع کیږي، ځکه د خدای کورنی ډیره لویه ده. نن ورځ تقریبًا د جهان په هر ګوټ کې عیسویان شته څوک زاړه دي او څوک ځوانان، یو شمیر باسواده دي، او ځنی لا تر اوسه په لیکلو او لوستلو نه پوهیږو ځنې غریبان دي او ځنې بډایان، هغوی زیاتره تر (۱۳۰۰) ژبو باندې خبري کوي، هر یو پخپلې مورنې ژبې خدای ته پلار وائي. یو بل ته د ورور او

خور خطاب کوي، که څه هم يو د بل سره په ژبه هم نه پوهيږی، خو بيا هم ډير د نژدوالی احساس کوی دا ځکه چې دوی ټول د خدای ماشومان دي.
که چيرې يو عيسوی د دنيا ګرد چاپيره سفر وکړي امکان لری يره خوښی ورته پيدا شي، ځکه چې تقريبًا په هر ښار کې حتٰی په هر کلی کې به د خپل يو عيسوی ورور او خور سره مخامخ شي د مثال په توګه يو عيسی چې د هغو کشتی د يکشنبی په ورځ د ماليزيا په بندر کې دريدلی وه د کليسا په لټه کې وو، تر څو د خدای عبادت ادا کړي، خو اخر يو کليسا ئې پيدا کړه، دا کليسا د چينائې عيسويانو کليسا وه، سره له دې چې سخت باران هم وريدو، خو کليسا د سړو، ښځو او ماشومانو ڈکه وه او په چينائې ژبه ئې عبادت کاوه، که څه هم مسافر په چينائې ژبه هيڅ نه پوهيدو، مګر د خلکو لخوا ئې تود هر کلی وشو او د عبادت څخه وروسته ټولو ورسره په ډيره ښه وضعه ورغبړ او د احوال پوښتنه وکړه، که څه هم دوی د پخوا نه سره

نه وو لیدلی، مګر بیا هم د یو نژدې ورور په شان تلنه ورسره وشوه.
عیسویان په ډیره مینه او صداقت سره دعا کوي او غواړی چې د نړۍ ټول خلک که هر چیري وي، د خدای د لوئی کورنی غړی شي، هغه کورنی کوم چې د حضرت عیسیٰ لویه او جهانی کلیسا ده.
خدای تعالٰی هم په دې هکله فرمائي: یو د بل سره د ورونو په شان مینه او محبت وکړي.
په عیسویت کې د غړئیتوب علامه په اوبو کې غوټه ورکول دي چې د پاکوالی ښکارندوی دی.

۲- یو عیسوی هغه څوک دی چې د مینی په یو ډک ژوند کې د حضرت عیسیٰ د پیروانو او د خدای او خلکو خدمتګار وي

که چیرې یو سړی په مونږ باندې یوه مهربانی وکړي یا یوه تحفه راکړي، نو طبعاً مونږ هم دا کوښښ کوو چې په هره توګه چې وي د هغې څنې خوښی

ښکاره کړو، یا به ورته یوه تحفه ورکوو او یا به ورته یو خدمت کوو، تر څو زمونږ د مینې ښکارندوی وي، مګر آیا څرنګه کولی شو چې خپله خوښي هغه خدای ته ښکاره کړو، کوم چې خپل ګران زوی حضرت مسیح ئې زمونږ د نجات ورکولو په خاطر او زمونږ د ګناهونو د له منځه وړلو په خاطر (که په حضرت مسیح عقیده ولرو) را واستاوه، او هم څرنګه د حضرت مسیح نه خوښي ښکاره کړو، کوم چې زمونږ په عوض په صلیب باندې مړ شو او په دریمه ورځ بیرته ژوندی شو، تر څو چې مونږ ته ابدي ژوند راکړي.
مونږ هغه ته بل هیڅ شی نشو ورکولی بغیر له خپلو ځانونو، زړونو، فکرونو، لاسونو او ژبو ځنې. خدای زمونږ سره مینه لري مونږ هم باید ورسره مینه ولرو او خدمت ئې وکړو. حضرت عیسیٰ زمونږ د ګناهونو په خاطر په صلیب باندې خپلې وینې توئی کړي او زمونږ ګناهونه ئې د خپلو وینو په بدل کې په بیه واخیست، فکر وکړئ چې د دې احسان په

مقابل کې باید څه وکړو؟ که هر څه وکړو بیا هم هیڅ نه دی، کم از کم چې په ډیره خوښی ئې اطاعت باید وکړو او په ډیره مینه د هغه له پاره ژوند وکړو. حضرت عیسیٰ د خپل پلار سره بشپړه مینه درلوده او خپله دا کامله مینه ئې د هغه کارونو د سرته رسولو پواسطه وښوده، کوم چې پلار ورته سپارلی وو. هغه خپل د ځان لوړتیا ګټه او عشرت نه غوښته بلکه خپل ټول عمر ئې د رنځورانو په شفاء ورکولو، د غمجنو په ډاډ ورکولو، د وږو په مړولو، د ګناه ګارانو په نجات ورکولو او خلکو ته د خدای د درس او پیغام په رسولو تیر کړ. د خلکو وظیفی ئې د خدای په مقابل کې او یو د بل په مقابل کې هغوی ته وښودلی. هغه حتیٰ د مرګ تر ورځې پورې د خدای اطاعت وکړ او د خپل پلار د امر سره، د ګناه ګارانو په خاطر په صلیب باندې مړ شو. یو عیسوی خپل د پیشوا حضرت مسیح تګ لار تعقیبوي او کوښښ کوي چې ټولو خلکو سره مینه ولري، نه یواځی د عیسوی ملګرو او ورونو سره

بلکه حتیٰ د خپلو دښمنانو سره هم مینه لري او غواړي چې د ټولو مذاهبو او نژادونو خلکو ته خدمت وکړي.
کله چې حضرت عیسیٰ په یو تسشت کې اوبه واچولی او د خپل مریدانو پښی ئې ومینځلی هغوی ته ئې وویل چې د هغه عمل او مثال باید تعقیب کړئ او دوی هم پخپلو منځو کې یو د بل پښی ومنځې دا د دې معنیٰ لري چې یو د بل سره په ډیره مینه او تواضع ژوند وکړي او د بل خدمت وکړی. همدارنګه حضرت عیسیٰ خپل مریدانو ته وویل هغه علامه چې د هغی په واسطه خلک عیسویان زما د مریدانو په صفت و پیژنی یو بل سره مینه او محبت کول دي. حقیقی مینه یواځې په خبرو نه معلومیږي بلکه د عملی خدمت کولو په واسطه معلومیږي چې دا ډول مینه او محبت د یو عیسوی علامه ده.
یوه لاره چې عیسویان کولی شي خپله خوښي، خپل نجات ورکوونکی ښکاره کړي دا ده چې هغوی

نورو خلکو ته د هغه د نجات زیری ورسوي، یعنې هغه خلکو ته چې د خدای د کلام او د حضرت عیسیٰ د لارښوونو څخه نه دی خبر، د خدای مقدس کلام ورسوي.

خدای تعالیٰ غواړي چې د هر ځای خلک حضرت مسیح وپیژني او په هغه عقیده ولري. عیسویانو ته دا امتیاز او مسؤلیت ورکړی شوی چې حضرت عیسیٰ نورو خلکو ته معرفي کړي او هغوی ته په حضرت مسیح باندي د ایمان راوړلو دعوت ورکړی، تر څو د خدای زامن شي.

که یو سړی په رښتیا حضرت عیسیٰ وپیژنی او د هغه سره مینه ولري، هغه به په ډیرې مینې سره د خدای کلام نورو خلکو ته ورسوی، په نتیجه کې غواړو ګرانو لوستوونکو ته په ډاګه کړو چې: ممکن یو سړی په عیسوی نژاد کې حتیٰ په یوه عیسوی کورنې کې زیږیدلی وی او هم د یو عیسوی کلیسا پورې مربوط وی، بې له دې چې د روح القدوس په واسطه د دوهم ځل لپاره زیږیدلی وي.

هغه څوک چې د مقدس روح په واسطه بیا ژوندی شوی نه وی، د خدای د کورنۍ غړی کیدلی نه شی او نه په حضرت مسیح پورې مربوط کیدلی شی. لنډه دا چې یو عیسوی د مقدس کتاب د ښوونو سره سم هغه څوک دی چې په حضرت عیسیٰ باندې د ایمان د لرلو له کبله بخښل شوی وی د روح القدوس په واسطه دوهم ځلې متولد شوی وی او حضرت مسیح سره په اتحاد کې ژوند وکړی. دا ډول انسان د خدای تعالیٰ زوی او د خدای تعالیٰ د کورنۍ چې کلیسا ده غړیتوب حاصلولی شی، یو عیسوی په ډیرې خوښی سره د حضرت مسیح نه پیروی کوی او هغه خپل ځښتن بولی د هغه د ټولو مثالونو څخه چې د یو پاک او سپیڅلی ژوندانه لپاره ورکړ شوی دی پیروی کوی او کوشش کوی چې د خدای او د خدای د خلکو خدمت ګار واوسی، نو وګوری چې په عیسویت کې ژوند او یا په بل عبارت عیسوی اوسیدل څومره لوی امتیاز دی، که څه هم هیڅوک د دې نوم لیاقت نه لری،

مګر څرنګه چې خدای د ټولو خلکو سره ډیره مینه لری، نو غواړی چې دغه امتیاز هغه چاته ور په برخه کړي کوم چې په رښتیا او اخلاص سره دا امتیاز لټوی.

## حوالی:

رومیان ۶: ۲۳، متی ۲۵: ۵۴، ۲۴ متی ۱۵: ۱۸، ۲۰ یوحنا ۳: ۳، ۸ ګلتیان ۲: ۲۰ رومیان ۵: ۶-۱۰، ۶: ۱-۱۱، یوحنا ۱۳: ۱۴-۱۵، ۳: ۳-۶ رومیان ۸: ۹